(1)

## په تیر او اوس کې د هجرت مفهوم

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **(إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ)** ژباړه:**« که تاسي د پیغمبر (ص) مرسته ونکړه، نو هیڅ پروا نشته. الله د هغه مرسته په هغه وخت کښي کړېده چي کله کافرانو هغه ایستلی ؤ، چي کله هغه یوازي د دوو نفرو دوهم ؤ، کله چي هغوی دواړه په سمڅه کښي ول. کله چي هغه خپل ملګري ته وویل: "مه خفه کیږه، الله زموږ سره دی." - په هغه وخت کښي الله له خپل لوري څخه پر هغه باندي د زړه ډاډېنه نازله کړه او په داسي لښکرو سره یې د هغه ملاتړ وکړ چي تاسي نه لیدل او د کافرانو وینا یې ټیټه کړه؛ او هماغه د الله وینا خو لوړه ده. الله زورور او پوه د حکمت څښتن دی.»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

کله چي د پیغمبر صلى الله عليه وسلم په صحابه ؤ باندي په مکه کي سختي راغله نو پیغمبر صلى الله عليه وسلم د بعثت په پینځم کال باندي هغوي ته اجازه ورکړه چې حبشي ته سفر وکړي هغوي ته یي وویلي چې د حبشه ځمکه کې داسی یو باچا دي چې په هیچا باندي هلته ظلم نکیږي،

نو هلته ولاړ شي ترڅو الله جل جلاله تاسو لپآره يو آزادی لاره برابره کړي او له هغه څه څخه مو وباسي چې تاسو پکې ياست نو ځيني صحابه هلته ولاړل او هلته ديره شول او ډير ښه ژوند يی تير کړ ځکه چې ډير ښه خلکو سره وسيدل او خپل دين يي وساتلي شو او د خپل رب عبادت يي وکړي شو تردي چې هغوي تا دا خبر ورسيده چې د مکي خلکو اسلام راوړی دی نو بيرته يي غوښتل چې راوګرځي هرکله چې دوي راغلل نو خبره داسی نه وه او يو واري بيا دويته زيان رسول له خلکو له لوري پيل شول همدا وو چې هغوي ته پيغمبر صلی الله عليه وسلم بيا امر وکړ چې بيا دوهم ځل لپآره حبشي ته هجرت وکړي او د مهاجرينو په سر کې جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه راتللو.

کله چې قريش پوه شول چې تللي مهاجرين هلته ډير په عزت او ښه ډول ژوند کوي او ددغه عادل پاچا ترڅنګ وسيږي غوښتل يي چې هغوي يو واري بيا راوګرځوي نو نجاشي پاچا ته يي خپل استازي وليږل او غوښتنه يي تری وکړه چې دغه خلک ورته تسليم کړي نجاشي ورته وويل: نه، قسم په الله زه به تاسو ته هغه څوک تسليم نکړم چې زما هيواد ته يي پناه راوړی وي او زما ترڅنګ اوسيدل يي غوره کړی وي تردی چې هغوي زه راوغواړم او د هغوي خبره هم واورم همدا وو چې جعفر بن ابي طالب رضي الله عنها ودريده ترڅو د قريشو ټول هغه د ځان نه جوړی شوي خبري ردد کړي او وی ويل: اي پاچا! مونږ داسی قوم وو چې د بتانو عبادت مو کولو او مړ شيان مو خوړل او همدارنګه حرام شيان مو حلال ګرځول فاحش کارونه مو کول او صله رحمي موپړی کوله او د ګاونډيانو حقوق مو هير کړي مو قوي به مونږ کې ضعيف باندي ظلم کولو مونږ ټول په همدی باندی وو تردي چې الله جل جلاله مونږ ته له مونږ څخه يو رسول راوليږلو چې د هغه نسب د هغه ريښتينولي او د هغه امانت او په هر څه باندی پوهيږي مونږ هغه الله جل جلاله د بادت کولو لپاره راوبللو ترڅو يواځي د الله عبادت وکړو او هغه څه پريږدو چې

مونږ ااو زمونږ نیکنو کول چې هغه د کاڼو او دبتانو عبادت وو هغه همدارنګه مونږ ته دا امر وکړ چې ریښتیا خبری وکړي امانت اداء کړو صله رحمي وکړو ښه ګاونډیتوب وکړو د حرامو شیانو او د وینې تویونې څخه ځان وساتو فاحش کارونه پریږدو او همدارنګه درو وینا د یتیمانو مال خوړل او په پاکدامنو ښځو باندی تور پوري کول پریږدو، هغه مونږ ته امر وکړ چې یواځې د الله عبادت وکړو د هغه سره شریک پیدا نکړو په لمونځ زکات روژه پدې باندې مونږ ته امر کړی دی او جعفر رضي الله عنه هغه ته د اسلام بنسټونه بیان کړ او بیا یې وویلی چې مونږ ددی تصدیق وکړ او ایمان مو پری راوړی دی او ایمان مو پری راوړی دی او په هغه څه باندی چې هغه راغلې د هغه تابعداري مو کړی ده یواځې د الله جل جلاله عبادت کوو او د هغه سره هیڅوک شریک نه ګڼو او هغه څه حرام ګڼو چې په مونږ باندی حرام ګرځول شوی دي او هغه څه حلال ګڼو چې مونږ ته حلال کړی شوی دي نو همدا دی چې پدې باندی زمونږ قوم په مونږ باندی تجاوز وکړو مونږ یې په عذاب کړو ترڅو خپل دین څخه واوړو او بیرته د بتانو عبادت پیل کړو او خبیث کارونه بیا پیل کړو هرکله چې په مونږ باندی یې ظلمونه وکړ او لاره یې په مونږ باندی بنده کړو او د زمونږ او زمونږ ددین ترمنځ مانع وګرځیدل همدا وو چې مونږ ستا هیواد ته راغلو او ستا هیواد او ستا ترڅنګ اوسیدل مو غوره کړ او ددی هله لرو چې ستا ترڅنګ په هیچا به ظلم نکیږي نجاشي ورته وویل آیا تاسره هغه څه شته چې الله له لوري تاسو ته راغلي دي؟ جعفر رضي الله عنه ورته وویل هو، نجاشي ورته وویل: ته ولوله، نو هغه د سورت مریم لومړني ایتونه پری ولوستل نجاشي وژړل تردی چې ږیره یې لمده شوه او د هغه ترڅنګ کاهنانو هم وژړل بیا نجاشي وویل: قسم په الله دغه خبري د یوي ډیوي څخه راوتلي چې عیسی پرهغه باندي راغلي او قسم په الله چې دوي به تاسو ته زه تسلیم نکړم.

که یو څوک به ځیر سره دغه دواړو هجرتونو کې فکر وکړي چې حبشې ته صحابه ؤ سرته رسولی وو په ښه ډول دا درک کولی شي چې د مسلمانانو لومړني هجرت د دار کفرڅخه دار ایمان ته نه وو ځکه اصلي بنسټ دادی چې د هیوادونو باید ساتنه وشي او ظالم ته پرې نښودل شي بلکې دا هجرت د دار خوف څخه دار امن ځاي ته وو ځکه چې نجاشي د حبشې پاچا وو اګر که هغه مسلمان نه وو خو هغه یو عادل باچا وو چې د هغه ترڅنګ به خلک په امن کې وسیدل او د خپل دین او د مالونو او نفسونو ساتنه یې کولی شوه نو له همدې لپاره ویل شوي دي چې الله جل جلاله د عدالت کوونکي دولت سره مرسته کوي اګر که کافر هم وي او هغه دولت شرموي چې هغه ظالم وي اګر که هغه مسلمانان هم وي نو بادشاهي ښایي د کفر سره ادامه پیدا کړي خو د ظلم سره ادامه نشي پیدا کولی او ظالم دولت ادامه نشي پیدا کولی اګر که حاکمان یې مسلمانان هم وی، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم عادل امام ته یو لوړه مرتبه ټاکلی ده او د قیامت په ورځ په د اوو هغو کسانو په سر کې وي چې د الله جل جلاله د عرش ترسیوری لاندی به وي هغه ورځ چې د هغه د عرش پرته بل سیوری به نه وي، ځکه چې د عادل پاچا په عدالت سره ټوله ټولنه سمیږي او په ظلم سره یې ټولنه فاسدیږي.

هرکله چې الله جل جلاله خپل نبي ته اجازه ورکړه چې مدیني منورې ته هجرت وکړي نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدې باندې متیقین وو چې د الله جل جلاله مرسته ورسره ده ځکه چې هجرت خپله لوي بدلون وو د دولت د جوړني لپآره ترڅو د ورولي او د سولي په فضا کې ګډ ژوند د نورو سره ترسره شي او یو صف برابر شي ترڅو نبي کریم وکولي شي خپل رسالت ټولي نړۍ ته ورسوي پدې هکله الله جل جلاله فرمایي:« **إِلاَّ تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللّهَ مَعَنَا فَأَنزَلَ اللّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُواْ السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللّهُ عَزِيزٌ**

**حَكِيمٌ» ژباړه:« كه تاسي د پيغمبر (ص) مرسته ونكړه، نو هيڅ پروا نشته. الله د هغه مرسته په هغه وخت كښي كړېده چي كله كافرانو هغه ايستلی ؤ، چي كله هغه يوازي د دوو نفرو دوهم ؤ، كله چي هغوی دواړه په سمڅه كښي ول. كله چي هغه خپل ملګري ته وويل: "مه خفه كيږه، الله زموږ سره دی." - په هغه وخت كښي الله له خپل لوري څخه پر هغه باندي د زړه ډاډينه نازله كړه او په داسي لښكرو سره يې د هغه ملاتړ وكړ چي تاسي نه ليدل او د كافرانو وينا يې ټيټه كړه؛ او هماغه د الله وينا خو لوړه ده. الله زورور او پوه د حكمت څښتن دی».**
د هجرت په اتم كال باندی الله جل جلاله نبي كريم صلی الله عليه وسلم پدی بريالی كړ چې مكه فتح كړی او د الله جل جلاله په دين كې خلک ډلی ډلی داخليدل همدا وو چې د هجرت مفهوم د محدود او تنګ معنی څخه پراخي معنی ته راوګرځي چې هيڅ پولي نلري او د ژوند ټولو اړخونو ته شامليږي نو د مكي د فتحې څخه وروسته هجرت پاي ته ورسيده پداسی حال كې چې د كمزورتيا په وخت كې هغه اړين ګڼل كيدلو الله جل جلاله پدي هكله فرمايي:« **إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنْتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا» ژباړه:« كومو خلكو چي پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه كولو) ظلم كاوه، پرښتو له هغو څخه  د ساه اخيستلو په وخت كښي پوښتنه وكړه چي: تاسي په څه حال كښي اخته وئ؟ هغوی ځواب وركړ چي: موږ په ځمكه  كښي كمزوري او مجبور وو. پرښتو وويل: ايا د خدای ځمكه پراخه نه وه چي تاسي په هغې كښي هجرت كړی وای؟ - دا هغه خلك دي چي استوګنځی يې دوږخ دی او هغه ډېر بد استوګنځی دی.»** نو د هجرت حكم د مكي د فتحې څخه وروسته بدل شو پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د مكې د فتحې څخه وروسته هجرت نشته بلكي جهاد او نيت دی.

کله چې صفوان بن امیه ایمان رواړو نو هغه ته وویل شول  هغه د مکي په یو لوړ ځای کې وو هغه څوک چې هجرت ونکړي هغه په دین کې نشي شاملیدلی هغه وویل زه خپل کور ته نه ځم تردی چې مدیني ته زه ورسیږم نو مدیني ته راغی همدا وو چې عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه سره مخامخ شو بیا پیمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی او وی ویل: چې په تا څه شوي دی اي ابا وهبه؟ هغه وویل: ماته وویل شو چې څوک هجرت ونکړي هغه په دین کې نشي شاملیدلی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: اي ابا وهبه بیرته راوګرځه او مکي ته ولاړ شه اود خپل ملت ترڅنګ ژوند وکړه ځکه چې هجرت اوس پایته رسیدلی دی او اوس جهاد او نیت باید وکړي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم همدارنګه فرمایي: کامل مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان د هغه دلاس او د ژبي څخه په امان کې وي او مهاجر هغه څوک دی چې هغه څه پریږدي چې الله د هغه څخه منع کړی ده.
کله چې د مکي مکرمی څخه مدیني منوری ته د هجرت لړی پایته ورسیده او دا د مکي مکرمي د فتحې سره پایته ورسیده خو د هجرت مفهوم او معنی لاتراوسه پوري هماغسی پاتی ده همدا مونږ باندی لازموي چې باید دا وساتو ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ددي بنسټ داسی ایښی دی چې واقعي هجرت هغه دي چې یو څوک غوره او ښه لوری ته راوګرځي لکه د بیکاري اود ستومانتیا نه کار عمل او مهارت ته یو څوک وګرځي او همدارنګه د ځانځاني عصبیت او جاهلیت څخه ورورولي ریښتینولي او نورو په ځان باندی غوره کولو ته راوګرځي او همدارنګه پدي باندي باور ولري چې خلک ډول دي او انسان ددي حق لري چې څه غوره کوي او د عقایدو په آزادي باندي باور ولري او د ښه ګاونډیتوب اود انسان په جوړونه باندي چې ایمان علم فکر سلوک اقتصاد ټولنه له ټولو اړخونه څخه په ښه ډول رامنځته شي دولت

جوړ کړي تمدنونه رامنځته کړي او د ټول بشریت د ګټولپآره کار وکړي ترڅو د بشریت او د انسان د کرامت ساتنه وشي.

د هجرت په معنی باندی په صحیح ډول سره پوهیدل ددی غوښتنه کوي چې هجرت مفهوم د وخت او د زماني په تیریدلو سره هغه بدلیدونکې ندي هغه دادي چې باید انسان د ناپوهي څخه علم لوري ته راوګرځي د ګمراهي څخه سمی لاری ته د بدو اخلاقو څخه ښه لارو ته راوګرځي فساد په ځاي ښه کارونه او اصلاحات رامنځته کړي ترڅو د تمدن په جوړونه اود ځمکي په آبادي کې ونډه واخلي ځکه چې زمونږ دین جوړوني او ابادوني دین دی الله جل جلاله فرمایي:**« هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا » ژباړه:« هماغه ذات دی چې تاسي یې له ځمکي څخه پیدا کړي یاست او دلته یې تاسي مېشته کړي یاست.»** نو زمونږ امت د کار امت دی نه دا چې خرابي او ویجاړي رامنځته کړي ځکه چې زمونږ امت د تمدن دین دی.

نو هر مسلمان ته لازمه ده چې خپل دین سره مینه ولري او د دین د لوړوالي او دعزت لپآره کار وکړي او د خپل هیواد د لوړوالي لپاره کار وکړي او هر ډول ذلت تندروي او د بي اتفاقی څخه ځان وساتي او همدارنګه ترهګري ډلی پریږدي چې د جهاد په نامه باندی غلط موخي وړاندی کوي یا هم په غیر قانوني ډول سره هجرت ترسره کیږي چې خپله هلاکت ته لاره هواروي او انسان پري ذلیله کیږي چې دا پخپله قانونا او شرعا یو جرم ګرځول شوی دی ځکه چې د هیوادونو حرمت د کورنو د حرمت په څیر دی کله څرنګه چې یو کور ته بغیر د اجازی نه داخلیدل جایز ندي همدارنګه یو دولت ته هم بغیر د قانوني او شرعي لارو نه پرته داخلیدل جایز ندي لکه څنګه چې یو څوک دا خوښ نه ګڼي چې بل څوک دی په غیر قانوني ډول سره هغه هیواد ته داخل شي نو هغه هم باید دنورو هیوادونو ته په غیر قانوني ډول باندی داخل نشي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**
*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

پدي مناسبت زه واړمه چې ددی یادونه وکړمه چې د محرمو میاشتو څخه راتلونکې میاشت محرم میاشت ده پدي کې مستحب دادي چې روژه ونیولی شي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې د فرض لمانځه څخه وروسته غوره لمونځ د شپي په منځني برخه کې لمونځ کول دي او غوره روژه د روژی د میاشتی څخه وروسته د محرمو په میاشتي کې روژه نیول دي او د عاشورا د ورځې روژه په ځانګړي ډول سره یي یاده کړي ده لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د عاشورا د ورځې روژه الله په نزد باندي دومره اجر لري چې د مخکیني کال ګناهونه پری معاف کیږی کله چې پیغمبر مدیني منوري ته راغي نو مدینه کې یی یهود ولیدل چې د عاشورا په ورځ باندی یي روژه نیوله هغوي وفرمایل: دا څه دي؟ هغو ورته وفرمایل دا د نیکي ورځ ده دا هغه ورځ ده چې الله جل جلاله بني اسرائیل ژغورل وو او د خپل دښمن څخه یي ساتلي وو نو موسی علیه السلام پدي ورځ باندي روژه نیولی وه هغه وویلي موسی علیه والسلام پرما باندي له تاسو څخه ډیر حق لري نو هغه ورځ یي روژه ونیوله اود روژه نیولو امر یي وکړ ابن عباس رضي الله نه وایي کله چې نبي کریم د عاشورا په ورځ باندي روژه ونیوله او د روژي نیولو امر یي وکړ نو هغو وویل اي د الله رسوله دا هغه ورځ ده چې یهود او عیسویان ددي ورځې لویي ترسره کوي پیغمبر صلی الله علیه وسلم وویل: راتلونکي کال به ان شاءالله مونږ به د محرم په نهمه بادي روژه

نیسو یعني نهمه او لسمه دواړه به نیسو نو سنت دادی چې د عاشورا د ورځي روژه ونیولی شي او بنه خبره داده چې نهم او لسم دواړه ونیولي شی.

**د الله جل جلاله څخه سوال کوو چې مونږ په هغه څه باندي بریالي کړي چې هغه پري خوشحالیږي او راضي کیږي او نوي هجري کال د خیر برکت او د مصر او د ټولو مسلمانانو هیوادونو لپاره د بریا کال وګرځوي.**